ErieCRIZ
City Revitalization & Improvement Zone
د ښار د بیارغونې او پرمختګ سیمه

درنو د CRIZ سوداګرو او د ملکیتونو خاوندانو ،

زه تاسو ته د دې یادونې لپاره لیک کوم چې د CRIZ د راپور ورکولو موده د 2026 کال د اپریل په لومړۍ نیټه پیلیږي. د یادونې په توګه، دا برنامه په سیمه کې له ټولو سوداګریزو او تجارتي ملکیتونو خاوندانو څخه غوښتنه کوي چې د هر کال د جون تر 15مې نیټې پورې د تیر کال (2025) لپاره دوه ساده فورمې ډکې کړي. په دې فورمو کې د هغو مالیاتو راپور ورکول کیږي چې تاسو لا دمخه د دې برنامې د مالیاتو له لیست څخه تادیه کړي دي (ضمیمه شوی پوسټ کارډ وګورئ).

دغه فورمې دا امکان برابروي چې هغه پیسې چې د مالیاتو په توګه تادیه شوي، بیرته زموږ په ټولنه کې د بیارغونې لپاره ولګول شي. په CRIZ کې مالیه ورکوونکي د دې برنامې د برخې کیدو له امله هیڅ اضافي پیسې نه ورکوي. یوازې د دې دوو فورمو ډکول اجازه ورکوي چې دمخه تادیه شوي مالیات بیرته ټولنې ته راستانه شي.

دا سیمه د Erie CRIZ Authority " ایري CRIZ اداري" لخوا اداره کیږي. اداري د Four Score LLC شرکت ګمارلی ترڅو له تاسو سره د دواړو فورمو په وړیا ډکولو کې مرسته وکړي. په ضمیمه شوي پوسټ کارډ کې تشریح شوي چې کوم راپورونه باید ورکړل شي. تاسو کولی شئ زموږ د راپور ورکولو بشپړ کڅوړه او نمونه په eriecriz.org/#resources ویب پاڼه کې ومومئ. هیله ده نمونه ډکه کړئ او Four Score ته یې په ایمیل واستوئ ترڅو دوی ستاسو په استازیتوب راپور وسپاري. د قانون له مخې د دې فورمو سپارل اړین دي، نو مهرباني وکړئ نمونه ژر تر ژره راولیږئ ترڅو له برنامې څخه ملاتړ وشي او د راپور نه ورکولو له جریمې څخه وژغورل شئ.

د Four-Score ټیم به د اپریل د 13مې په اونۍ کې په ایري (Erie) کې وي او اوسمهال د لیدنو مهالویش جوړوي. د لیدنې د وخت ټاکلو لپاره، له دوی سره په eriecrizcomplance@four-score.com اړیکه ونیسئ یا 484-951-1289 شمېرې ته زنګ ووهئ یا پیغام واستوئ.

په درنښت ،

Brian Polito
اجرائیوي رییس